# تاریخ

## اتم ټولګی

تاریخ - اتم ټولګی



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

# تاریخ

## اتم ټولګی

١٣٩٠
هـ . ش

**لیکوالان:**

- د کتور فاروق انصاري
- سرمولف عبدالغیاث غوري

پوهنیاره انیسه محمود عمر

- د مولف مرستیال عبدالمالک عابد
- د مولف مرستیال محمد حسین احمدزی

**مسلکي اډیټور:**

- پوهنوال محمد رسول باوري

**د ژبي اډیټور:**

- عبدالقیوم مشوانی

**ديني، سیاسي او فرهنګي کمېټه:**

- مولوي عبدالصبور عربي
- دکتور محمد یوسف نیازی
- حبیب الله راحل د پوهنې وزارت سلاکار د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې.

**د څارنې کمېټه:**

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین.
- دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول.
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

**طرح او ډیزاین:** حمیدالله غفاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افـــغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمـــان دی
دا وطن د ټولو کـور دی — د بـــلوڅـــو د ازبکـــو
د پښتـــون او هزاره وو — د تـــرکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، گوجـر دي — پـــامیریان، نورستانیـــان
براهوي دي، قزلباش دي — هـــم ایمـــاق، هم پشه یان
دا هیـــواد به تل ځلیږي — لـــکـه لمـر پر شنه اسمـان
په سینـه کې د اسیـا به — لـــکـه زړه وي جـاویدان
نوم د حق مو دی رهبـــر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د پوهنې د وزیر پیغام

**ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، دوطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لیک لړ


**لومړی څپرکی: افغانستان او اسلام** ۱-۱۲

لومړی لوست: افغانستان ته د اسلام راتگ

دویم لوست: د افغانستان اوضاع د امویانو په دورې کې

دریم لوست: د افغانستان اوضاع د عباسیانو په دورې کې

څلورم لوست: د افغانستان د وګړو او عربو مسلمانو متقابلې اغېزې یو پر بل باندې

**دویم څپرکی: د افغانستان خپلواک اسلامي حکومتونه** ۱۳-۲۸

پنځم لوست: طاهریان، صفاریان، سامانیان

شپږم لوست: غزنویان او سلجوقیان

اووم لوست: غوریان او خوارزم شاهیان

اتم لوست: مغولان، تیموریان او د کرت اولاده

**دریم څپرکی: د کندهار له پاڅون نه مخکې د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو اړیکې** ۲۹-۳۸

نهم لوست: د ماوراء النهر شیبانیان او استراخانیان

لسم لوست: د هند بابریان

یوولسم لوست: د ایران صفویان

**څلورم څپرکی: د کندهار غورځنګ** ۳۹-۴۲

دولسم لوست: د کندهار پاڅون

دیارلسم لوست: د میرویس خان ځای ناستي

**پنځم څپرکی: د ګاونډیو هېوادونو تاریخ په منځنیو او نویو پېړیو کې** ۴۷-۷۲

څوارلسم لوست: ایران په منځنیو او نوو پېړیو کې

پنځلسم لوست: هند په منځنیو او نوو پېړیو کې

شپاړسم لوست: روسیه په منځنیو او نوو پېړیو کې

اوولسم لوست: چین په منځنیو او نوو پېړیو کې




**شپږم څپرکی: د اروپا تاریخ** ۲۳-۸۰

اتلسم لوست: په منځنیو پیړیو کې د اروپا عمومي اوضاع

نولسم لوست: صلیبي جګړې

شلم لوست: د اروپا رنسانس

یوویشتم لوست: په پوهه، ادب او فرهنګ کې بدلونونه

دوه ویشتم لوست: په اروپا کې لوی انقلابونه

**اووم څپرکی: د امریکا تاریخ** ۸۱-۹۳

درویشتم لوست: د مایا تمدن

څلور ویشتم لوست: د ازتک تمدن

پنځه ویشتم لوست: د اینکا تمدن

شپږ ویشتم لوست: د امریکا کشف او د مهاجرتونو پیل

اوه ویشتم لوست: د امریکا د متحده ایالاتو خپلواکي




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## افغانستان او اسلام

په لاندنیو لوستونو مشتمل دی:

۱- افغانستان ته د اسلام راتګ؛
۲- د افغانستان اوضاع د امویانو په دوره کې؛
۳- د افغانستان اوضاع د عباسیانو په دوره کې؛
۴- د افغانستان د خلکو او مسلمانو عربو یو پر بل باندې متقابلې اغیزې.

# د څپرکي موخې:

۱- په هېوادکې د اسلام د دين د خپرېدا د څرنګوالي او د اسلام د څرګندېدا په درشل کې د افغانستان له عمومي اوضاع سره د زده کوونکو اشنا کول؛

۲- د امويانو او عباسيانو په دورو کې د افغانستان له عمومي اوضاع سره د زده کوونکو اشنا کېدنه؛

۳- په دريو لومړنيو هجري پېړيو کې د افغانستان د خلکو او عربو مسلمانانو ترمنځ د راکړې ورکړې سره د زده کوونکو اشنا کېدل.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان ته د اسلام راتګ



په کابل کې د شاه دوشمشیره جومات

ایا پوهېږئ چې افغانستان ته اسلام څرنګه راغی او زموږ خلکو ولې د اسلام اسماني دین ومانه؟

## د افغانستان اوضاع د اسلام د څرګندېدا پر مهال

د اسلام د راتګ په نږدې مهالونو کې افغانستان د ژوند د بېلا بېلو اړخونو له پلوه د یوه بنسټیز بدلون لپاره چمتو شوی و.

د ساري په ډول زموږ په هېواد کې یو داسې پیاوړی حکومت چې ولایتونه او بېلا بېلې سیمې تر خپلې واکمنۍ لاندې ولري شتون نه درلود او هره برخه د بېلا بېلو واکمنانو له خوا اداره کېدله. د هېواد په شمال کې **ترکانو** حکومت کاوه او د **هندوکش** په سوېل کې د **رتبیل شاهانو** واکمني وه. په لوېدیځ کې په **ساسانیانو** پورې تړلو والیانو د چارو واګې په لاس کې لرلې.

له ټولنیزه پلوه د طبقاتو شتون او د ویني او توکم په اصالت باندې باور هم خلک له ستونزو سره مخامخ کړي وو. د کورنۍ جوړښت هم ټینګ او محکم بنسټ نه درلود، په ښځو باندې ظلم رواګڼل کېده او له دیني پلوه هم زموږ هېواد وال د بېلا بېلو ادیانو منونکي وو. په تېره **بودايي** او **زردشتي** ادیانو ډېر منونکي او پلویان درلودل.

لمر ته عبادت هم رواج درلود. او له بله پلوه د لوړ پوړو شخصیتونو او د ځواک د خاوندانو له خوا



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ظلمونو او تېريو او د عدالت د نشتوالي له کبله په خلکو کې يوه عمومي نارضايتي او ګډوډي تر سترګو کېده.
په همدې حالت کې د اسلام اوازه زموږ هېواد ته راورسېده. يعنې هغه دين چې خلک يې يو ځبنتن، خپلواکۍ، عدالت او برابرۍ ته رابلل ډېر ژر د دې دين دعوت کوونکو او مجاهدينو ځانونه زموږ د هېواد تر پولو راورسول.

## د اسلام د دين خپرېدا



د افغانستان په لوري د اسلام پرمختګ د **حضرت عمر فاروق** (رض) د خلافت په دورې کې پيل شو. له **نيشاپور** څخه وروسته **هرات** لومړنی ښار وو چې د مسلمانانو تر ولکې لاندې راغی. وروسته نور ښارونه هم د اسلام د لښکرو لاس ته ورغلل.

په تېره له ۴۱ سپوږميز/۶۶۱ ز کال نه وروسته دغه مخ ته تګونو لا زور واخيست او زموږ د هېواد ډېر ښارونه د مسلمانانو تر ولکې لاندې راغلل. خو د اسلام د دين مکمل رواج او خپرېدنه هغه مهال پيل شو کله چې دننه په هېواد کې يو لړ کورنيو عناصرو او ځواکونو لکه **سيستاني صفاريانو** د اسلام دين ته د ساتنې او د دغه آسماني دين د خپرېدا په منظور خپلې ملاوې وتړلې.

**په ټولګي کې فعاليت:**
زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي، لومړۍ ډله دې د افغانستان اوضاع له اسلام څخه دمخه روښانه کړي او دوهمه ډله دې په افغانستان کې د اسلام د خپرېدا د څرنګوالي په هکله رڼا واچوي.

**پوښتنې:**
۱- د اسلام د راتګ پر مهال زموږ د هېواد په شمالي او لوېديځو برخو کې کوم قامونه واکمن وو؟
۲- د هغو اديانو نومونه واخلئ چې له اسلام څخه دمخه يې زموږ په هېواد کې رواج درلود.
۳- ستاسو په اند زموږ په هېواد کې ولې خلکو له اسلام څخه هرکلی وکړ؟
۴- ولې يوشمېر خلکو د عربو واکمنانو په وړاندې پاڅون وکړ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د افغانستان وضع د اموියانو په دورې کې




د امويانو دکورنۍ په باب څه معلومات لرئ. ايا خبر ياست چې ددوی په دورې کې اسلام ډېره پراختيا ومونده؟

**اموي کورنۍ** د قريشو په قام پورې اړه لري. هغوی له **٤١** سپوږمیز/ ۶۶۱ ز کال نه وروسته اسلامي خلافت ترلاسه کړ او د ۹۰ کلو لپاره يې په اسلامي نړۍ باندې حکومت وکړ. د امويانو د واکمنۍ پر مهال اسلام د نړۍ په ډېرو سيمو کې خپور شو.

د دوی په زمانې کې د افغانستان کابو ټولې سيمې د اسلام په رڼا روښانه شوې. او د عربو بېلې بېلې طايفې له **جزيرة العرب** نه **خراسان** يا **اوسني افغانستان** ته راکډې شوې.

### د يحيی بن زيد پاڅون

د افغانستان خلکو ځينې وخت د اموی واکمنانو په وړاندې د پاڅونونو څخه چې د دوی د سياسي مخالفينو له لوري ترسره کېدل ملاتړ کاوه.


له دغو پاڅونونو څخه يو هم د بني هاشم د کورنۍ ديوه غړي **يحيی د زيد د زوی** پاڅون وو، چې په **جوزجان** کې رامنځ ته شو. يحيی په ۱۲۶ سپوږمیز/ ۷۴۴ ز کال کې له خپلو ۱۲۰ تنو ملګرو سره ووژل شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ابومسلم خراساني

**عبدالرحمن** ملقب په **ابومسلم** په ۱۰۰ سپوږمیز/ ۷۱۹ زکال **د جوزجان** په **سفید نج** کې زېږېدلی او د **زید د زوی یحیی** تر شهادت وروسته یې د امویانو پر ضد د پاڅون مشرتوب په غاړه واخیست او په۱۲۹ سپوږمیز/ ۷۴۷ زکال کې یې د کوچني اختر په ورځ په سفید نج کې د امویانو بیرغ راکوز کړ او په بدله کې یې د عباسیانو جنډه چې تور رنګ یې درلود پورته کړه.



ده د خلکو په مرسته د افغانستان ځینې نومیالي ښارونه یو په بل پسې ونیول. ابومسلم په وروستیو کې



(c) ketabton.com: The Digital Library

اموي دولت ته ماتې ورکړه او په ۱۳۲ سپوږمیز/ ۷۵۰ ز کال کې یې خلافت د عباسیانو ځانګې ته ولیږه.
خو عباسی خلیفه منصور چې د خراسان د خلکو ترمینځ یې د ده د نفوذ څخه ویره درلوده بالاخره هغه یې په ۱۳۷ق/۷۵۵ ز کې په یو چل سره وواژه. ابو مسلم په دې وخت کې ۳۸ کلن و.

## امیر پولاد او امیر کروړ

**امیر پولاد** د افغانستان په مرکز کې د **غور** له امراو وڅخه و . ده هم کله چې واورېدل چې د افغانستان خلک



د ابومسلم پاڅون له تورو جنډو سره


د ابو مسلم خراسانی پر شاوخوا راټول شوي په عباسي نهضت کې ګډون وکړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**امیر کروړ** د امیر پولاد زوی و. ده هم په **عباسي پاڅون** کې د پام وړ برخه لرله. او زیاتې بریاوې یې ترلاسه کړي دي.

دی د پښتو ژبې یو ډېر پوه، لایق او پوخ شاعر هم و. ویل کیږي چې د اسلام له راتګ څخه وروسته لومړنی پښتو حماسي شعر ده ویلی دی.



### په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په دوه الف او ب ډلو وویشل شي. الف ډله دې د ابومسلم د پاڅون لاملونه څرګند کړي او د ب ډله دې د نقشې نه په ګټې اخیستنې سره د امویانو د خلافت د مرکز په لوري د ابومسلم او د هغه د پلویانو تګ لوري وټاکي.

### پوښتنې:

۱- ولې د افغانستان خلکو د اموي خلافت ضد پاڅونونو څخه پلوي وکړه؟

۲- تش ځایونه ډک کړئ.

ابومسلم په ............... وزیرید او له دې نه چې د ................... پر ضد پاڅون وکړ. خلکو له هغه څخه پلوي وکړه.

۳- امیر پولاد او امیر کروړ د افغانستان په کوم ځای کې امارت درلود.

۴- ستاسو په اند امیر پولاد او امیر کروړ ولې له عباسي پاڅون او نهضت څخه پلوي وکړه؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان اوضاع د عباسيانو په دورې کې




د عباسي کورنۍ په هکله څه معلومات لرئ؟ او ايا دا خبره تاسو ته ښکاره ده چې هغوی د افغانستان د خلکو د پلوی په قيمت خلافت ته ورسېدل.

عباسيان د اسلام د ګران پېغمبر (ص) تره (حضرت عباس رض) ته منسوب دي او د قريشو له هاشمي څانګې څخه ګڼل کېږي. عباسي کورنۍ د لومړنۍ هجري پېړۍ نه وروسته د سياست ډګر ته ودانګل. او کله چې د افغانستان د هغه وخت له ناارامې وضعې څخه خبر شول نو په ۱۰۹ سپوږميز/ ۷۲۷ زکال کې يې خپل داعيان او مُبلغان زموږ هېواد ته را واستول.

د افغانستان يا د هغه وخت خراسان خلکو چې د ځينو عربي واکمنانو د کړنو په وړاندې ښه نظر نه درلود له عباسي غورځنګ څخه پلوي وکړه. عباسيان زموږ د خلکو د سرښندنو او مبارزو له امله په ۱۳۲ سپوږميز/ ۷۵۱ زېږديز کال کې خلافت ته ورسېدل. د عباسيانو د خلافت دوره ۵۲۳ کاله وه او په پای کې په ۶۵۶ سپوږميز/ ۱۲۵۸ زکال کې د خلافت دغه لړۍ د مغولو په واسطه له منځه ولاړه.

### برمکيا ن


برمکيان په اصل کې د يوه سړي چې برمک نومېده له اولادې څخه دي. برمک د بلخ د نوبهار د زردښتي اورتون يو موبد روحاني و. د دې کورنۍ نوميالی او ستر شخصيت **خالد** د برمک زوی دی چې د منصور عباسي د وزير او سالار په توګه يې دنده ترسره کوله. له خالد څخه وروسته د ده زوی **يحيی** د دې کورنۍ يو پوه او د نفوذ خاوند بلل کېږي. دی د عباسي خليفه مهدي له لوري د هارون الرشيد د ښوونې او روزنې لپاره د ښوونکي په توګه وګمارل شو.

ده وروسته بیا د **هارون الرشید** د حکومت په دورې کې د عباسي خلافت ټولې چارې په خپل لاس کې ونیولې او د خپلو دوو زامنو سره یې هغوی ته کار کاوه. څه موده وروسته هارون الرشید پر هغوی باندې بدګمان شو. په ۱۸۷ سپوږمیز/ ۸۰۳ زکال کې یې **جعفر** د یحیی زوی وواژه او په خپله یحیی او د ده کورنۍ یې بندي کړه. د برمکیانو ټول مالونه یې ضبط کړل له دې پېښې وروسته له **برمکیانو** څخه بل داسې ستر شخصیت راپورته نشو.

## په عباسي دورې کې کلتور او پوهنه

د عباسیانو په پېر (دورې) کې افغانستان د یوشمېر سترو شخصیتونو د ځلېدو کتونکی او شاهد و، چې د علمي او ادبي اثارو په رامنځ ته کولو سره یې خپل نومونه تل پاتې کړي دي. د ساري په ډول:

**محمد، احمد او حسن** د موسی بن شاکر خراساني زامن چې په **ریاضیاتو** کې یې له ځانه اثار پرېښودلي دي. دغه راز ابومعشر جعفر بن محمد بلخي مشهور ریاضي پوه چې ۱۲ کتابونه یې تالیف کړي دي؛ **بشار** بن برد تخارستاني چې په عربي شعر کې یې ډېر نوم وتلی و؛ **ابوزید** احمد بن سهل بلخي، ادیب، متکلم، فیلسوف او د جغرافیې د پوهنې پوه له بلخ څخه؛ ابوزید چې د **جغرافیې** او فلسفې په پوهنو کې یې کتابونه تالیف کړي دي؛ **ابو محمد هاشم** بن زید سرواني چې د عربو د شعر په باره کې یو کتاب ولیکه.




په بلخ کې د ابونصر پارسا جومات

**په ټولګي کې فعالیت:**

زده کوونکي دې په ګډه، د عباسیانو په دوره کې د افغانستان د خلکو د مهمو چوپړونو په اړه خبرې اترې وکړي او هغوی دې لیک لړ کړي.

**پوښتنې:**

۱- تش ځای ډک کړئ:

عباسیانو د خلکو د .................. په دلیل زموږ په هېواد کې ځانله د پېښو د پل ځای وموند.

**۲-** د دې دورې د دریو تنو فرهنګي شخصیتونو نومونه واخلئ.

**۳-** د نوبهار اورتون په دغو کومو ښارونو کې شتون درلود؟

الف (کندهار)　　ب (هرات)　　ج (بلخ)　　د (کابل)



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان د وګړو او عربو مسلمانو متقابلې اغېزې



ايا پوهېږئ چې افغانستان او اسلام يوه بل ته سره ډېر مهم کارونه کړي دي؟



د اسلام په راتګ سره زموږ هېواد د خپل تاريخ په يوه نوي پړاو کې ګام کېښود. اسلام زموږ خلکو ته يوه نوې پېژندګلوي (هويت) ورکړ او تر دې وروسته زموږ هېواد اسلامي هېواد وبلل شو. دغه نوی هويت زموږ د خلکو د لا ټينګ يو والي لامل وګرځېد ځکه ټول قامونه او قبايل د يوه دين او يوې عقيدې او اند خاوندان شول.

د اسلام دين هغه خندونه چې د پوهې د ترلاسه کولو په لارې کې يې شتون درلود له منځه لرې کړل. او د پوهنې انحصار يې چې د ځواکمنو خلکو، شتمنو وګړو او حکم چلوونکو انسانانو په واک کې وو له منځه يوووړ. په همدې دليل علم او پوهنې وده وکړه زموږ په هېواد کې د پوهانو او عالمانو شمېر زيات شو. او ډېر شمېر وګړو (افرادو) د يادونې وړ چوپړونه يې د پوهې نړۍ ته وړاندې کړل.

له بله پلوه زموږ د هېواد خلکو د اموي دورې د ځینو عربو والیانو د بې عدالتۍ د چلند پر ضد پاڅون وکړ. هغوی په **عباسي نهضت** کې د **ابومسلم** تر لارښوونې لاندې برخه واخیسته.

دغه راز د دې هېواد وګړو د اسلام د خپراوي په منظور ډېرې سربښندنې وکړې. او ختیځو سیمو ته یې اسلام خپور کړ.

لنډه دا چې د اسلام او افغانستان اغېزه یو ه متقابله اغېزه ګڼل کېداې شي. اسلام زموږ خلکو ته یو نوی هویت ورکړ، یووالی او وحدت یې وروباښه، د پوهنو دروازې یې پرانستلې. د افغانستان خلکو هم د پوهنیزو او کلتوري چوپړونو د پکارولو له لارې او دغه رنګه د سر او ځان نه تېرېدنې په ذریعه د اسلامي تمدن د پرتمینې ماڼۍ په ودانولو کې ښه او غوره برخه واخېسته. په تېره پوهانو په دې لارې کې ډېر زیارونه وایستل.



په مزار شریف کې د حضرت علی بن ابي طالب (رض) زیارت ځای

**په ټولګي کې فعالیت:**

ګران زده کوونکي دې په دوه ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د اسلام چوپړونه افغانستان ته او دویمه ډله دې اسلام ته د افغانستان خدمتونه څرګند کړي.

**پوښتنې:**

۱– ستاسو په اند د اسلام ډېره مهمه اغېزه پر افغانستان باندې څه و ؟

۲– د اسلام له راتګ څخه وروسته ولې زموږ په هېواد کې پوهان ډېر شول ؟

۳– ایا اسلام په دې بریالي شو چې زموږ خلکو ته یووالی وبښي؟ روښانه یې کړئ.

۴– تش ځایونه ډک کاندئ.

اسلام راغی ................ ته یې بدلون ورکړ او مونږ ته یې .......................... راوباښه.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هرات کې د اختیارالدین کلا

# دویم څپرکی



## د افغانستان خپلواک اسلامي حکومتونه

د افغانستان خپلواک اسلامي حکومتونه په لاندنیو لوستونو کې شامل دي:

۱- طاهریان، صفاریان او سامانیان؛

۲- غزنویان او سلجوقیان؛

۳- غوریان او خوارزم شاهان؛

٤- مغولان، تیموریان او دکرت کورنی.

# د څپرکي موخې:

په دې څپرکي کې له لاندې مطالبو او موضوعاتو سره اشنا کیږئ.

۱- په افغانستان کې د خپلواکو سیمه ییزو اسلامي حکومتونو د جوړېدو له لارو چارو سره د زده کوونکو اشنا کېدل؛

۲- د زده کوونکو اشنا کول له هغو شخصیتونو سره چې د افغانستان د بیا بیا خپلواکه کولو په لاره کې يې گامونه پورته کړل؛

۳- په افغانستان کې له اسلام څخه په راوروسته مودې کې د سیمه ییزو واکمنانو له لړیو سره د زده کوونکو اشنا کول؛


۴- د سیمه ییزو حاکمانو له کورنیو سره د سلاطینو د اړیکو په څرنګوالي باندې د زده کوونکو اشنا کېدل؛

۵- په افغانستان باندې د چنگیز او تیمور د لښکرو د یرغل د څرنگوالي او دغه راز د مغولانو او کرت د اولادې ترمنځ د اړیکو د جوړېدو د څرنگوالي په هکله د زده کوونکو اشنا کول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## طاهریان، صفاریان او سامانیان




آیا پوهېږئ چې لومړني اسلامي خپلواک حکومتونه زموږ په هېواد کې جوړ شول؟

# طاهریان

طاهر د حسین زوی په اصل کې د هرات د **پوشنګ** او یا اوسني زنده جان له وګړو څخه و. دی په **۱۵۹** سپوږمیز/ ۷۷۶ ز کال کې زېږېدلی دی.

طاهر د ځوانۍ له هماغه لومړي سر څخه په تولنیزو او سیاسي چارو کې ګډون کاوه. ده د دوه عباسي ورونو له منځه د مامون الرشید پلوي کوله او په ۱۹۵ سپوږمیز/ ۸۱۱ ز کال کې یې امین ووژه.

له دې وروسته مامون الرشید خلیفه شو. طاهر د خلیفه له لوري د خراسان د واکمن په توګه وګمارل شو او د ۲۰۷ سپوږمیز/ ۸۲۲ ز کال د جمعې په ورځ منبر ته لاړ او د خلیفه نوم یې له خطبې څخه وغورځاوه. او خپله خپلواکي یې څرګنده کړه. خو د همدغې ورځې په سبا ووژل شو. له ده وروسته د ده زامنو ۵۵ کاله د افغانستان په ځینو برخو واکمني وکړه.

د دې کورنۍ وروستي تن **محمد** نومېده چې په ۲۵۹ سپوږمیز/ ۸۷۳ ز کال کې د لیث صفاري د زوی **یعقوب** له خوا ونیول شو او د سیستان په بندتون (زندان) کې ومړ.


# صفاریان

د دې کورنۍ بنسټ ایښودونکی او پیل کوونکی صفاري یعقوب د لیث زوی دی. دی د سیستان له خلکو څخه و. په ۲۰۷ سپوږمیز/ ۸۲۲ زکال کې د افغانستان په سوېل لوېدیځې سیمې کې وزېږېد. پلار یې د مسګرۍ دنده درلوده. له همدې امله یعقوب او د ده ورونو عمرو، علي او طاهر ته صفاریان ویل کېږي.

یعقوب په ځوانۍ کې د عیارانو له ډلې سره ملګری شو. دی په دې ډلې کې د مشرتابه رتبې ته ورسېد. یعقوب د عیارانو په مرسته د سیستان بېلابېل ښارونه ونیول. خو د سیستان د خلکو رسمي بیعت له ده سره د ۲۴۷ سپوږمیز/ ۸۶۱ زکال د محرم د میاشتې په پنځه ویشتمه ورځ رامنځ ته شو، له دې وروسته یعقوب له رتبیل شاه سره جنګ ته ودانګل چې د دې جنګ په پایله کې زموږ د هېواد رتبې او مهمې سیمې د یعقوب په لاس کې کېوتې، دغه راز د طاهریانو د کورنۍ وروستي واکمن محمد هم د ده د لښکر له خوا ونیول شو او بندي کړای شو.

یعقوب چې په ځان کې یې د توان او ځواک احساس کاوه په ۲۶۲ سپوږمیز/ ۸۶۷ زکال کې د عباسي خلافت د پلازمېنې (مرکز) د بغداد د اداري غوښتونکی شو، چې په پایله کې د اکار له عباسي خلیفه معتمد باالله سره په جنګ و اوښت، خو یعقوب ماته وخوړه او په شا شو.

یعقوب په ۲۶۵ سپوږمیز/ ۸۷۹ زکال کې ومړ. او له ده څخه وروسته د ده ورور عمرو د ځواک په ګدۍ ډېره ولګوله. صفاري عمرو چې سامانیان یې خپل رقیبان ګڼل په ۲۸۷ سپوږمیز/ ۹۰۰ میلادي کال کې د هغو جنګ ته ورغی. خو بلخ ته نږدې یوې سیمې کې یې ماته وخوړه او د اسماعیل ساماني اسیر شو. له دې څخه وروسته صفاري حکومت په محدوده توګه تر ۳۰۰ سپوږمیز/ ۹۱۳ زکاله پورې په سیستان کې دوام درلود.






(c) ketabton.com: The Digital Library


# سامانیان

سامانیان دیوه سرې چې سامان نومېده له اولادې څخه ګڼل کیږي. سامان د بلخ له خلکو څخه یو ځوک و چې د امویانو د خلافت پر مهال مسلمان شوی و. د ده زامن په حکومتي دفاترو کې رېتو او مهمو دندو ته ورسېدل. د سامانیانو د حکومت بنسټ ایښودونکی اسماعیل ساماني دی.

امیر اسماعیل اته کاله تېولواکي وکړه. د بخارا ښاریې خپله پلازمېنه وټاکله او ودان یې کړ.

د ده له مړینې وروسته د ده زوی احمد او تر هغه وروسته نصر تېولواکی ته ورسېد. د نصر د واکمنۍ په دوران کې د سامانیانو دولت ډېر ښه وځلېد. خپل اوج او لوړې پوړۍ ته ورسېد. څکه د ده په زمانې کې ډېر شمېر پوهان د سامانیانو په دربار کې سره راغونډ شول.

ساماني حکومت په لومړي سر کې له ښه نظم او ښې اداري څخه برخمن و. خو له هغه وروسته چې سیمه ییزو واکمنانو ځواک ترلاسه کړ دغه حکومت له یولړ ستونزو سره مخامخ شو. یو له دغو محلي امراو څخه الپ







(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تګین** نومېده چې د سامانیانو له اوامرو څخه یې سر وغړاوه. د د افغانستان په شمال د **خلم** په سیمه کې سامانی ځواکونو ته ماتې ورکړه او له هماغه ځایه یې له خپلو پلویانو سره یو ځای په ۳۵۱ سپوږمیز/ ۹۶۲ زکال په غزنی کې د یوه نوي حکومت د بنسټ ډبره کېښوه وله.



د بخارا په ښار کې د ساماني امیر اسماعیل قبر

**په ټولګي کې فعالیت:**

زده کوونکي دې په ډله ییزه توګه د سامانیانو د حکومت په راپرزېدا او بې واکه کېدا باندې یو له بل سره خبرې اترې وکړي.


**پوښتنې:**

۱- طاهر د کوم ځای و او څرنګه حکومتي لوړو پوړیو ته ورسېد؟
۲- طاهر ولې د عباسي خلیفه نوم له خطبې څخه لرې کړ؟
۳- په لومړي سر کې کومې ډلې له یعقوب لیث صفاري څخه پلوي وکړه؟
۴- د بغداد له عباسي خلیفه سره ولې د یعقوب لیث صفاري اړیکې وراني شوې؟
۵- د سامانیانو پلازمینه په کوم ځای کې موقعیت درلود؟
۶- دغه تش ځایونه ډک کړئ. د سامانیانو رټ او مهم ټولواک ........ نومېده او د هغه په دربار کې ............ سره راټول شوي وو.
۷- ستاسو په اند د ساماني دولت د وضعې د خرابېدا لامل څه و؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزنویان او سلجوقیان






ایا پوهیږئ چې غزنویانو او سلجوقیانو په افغانستان کې څواکمن حکومتونه رامنځ ته کړل؟

د غزنویانو د لړۍ بنسټ اېښودونکی **الپ تګین** دی. هغه د سامانیانو په دربار کې له ترکي توکمه امراوو او سردارانو څخه یو تن و. خو د غزنویانو حکومت د **سبکتګین** په واسطه رامنځ ته شو. دی د الپ تګین زوم و او د غزني له ټولواک (لویک) سره په جنګ کې یې بریا ترلاسه کړه.

سبکتګین همدارنګه د غزنویانو د حکومت لمن د هند تر **جیپال** پورې وغزوله له ده وروسته د ده زوی **سلطان محمود غزنوي** ټولواک شو. ده په لومړي سر کې دننه په افغانستان کې د خپل حکومت ستنې ټینګې کړې او وروسته یې بیا د هند په لوري د عسکري سوقیاتو په مټ د خپل حکومت لمن تر هغو سیمو وغزوله. ده په دغو سوقیاتو کې ډېر غنایم ترلاسه کړل او هغه یې غزني ته راولیږدول. په دغو غنایمو سره د غزني ښار څه نا څه ودان شو. په دغه ځای کې ډېر پوهان او شاعران لکه ابوریحان **البیروني**، ابومنصور **دقیقي**، **فرخي سیستاني** او **عنصري بلخي** سره راغونډ شوي وو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له سلطان محمود څخه وروسته غزنویان

سلطان محمود غزنوي په ۴۲۱ سپوږمیز/ ۱۰۳۰ زکال کې مړ شو له ده وروسته د ده زوی **مسعود** ټولواکۍ ته ورسېد. ده د خپل پلار په شان پوهه او ذکاوت نه درلود. ځکه نو د غزنوي حکومت سرداران ورڅخه ناهیلي شول او ده له پلوۍ څخه یې لاس واخیست. په همدې حال کې په **مرکزي اسیا** کې یو بل **ترک توکم** ځواک رامنځ ته شو. دغه ځواک **سلجوقیان** وو چې د مرو، نیشاپور او هرات تر نیولو وروسته له **غزنویانو** سره جنګ ته تیار شول. د دواړو لوريو ترمنځ په ۴۳۱ سپوږمیز/ ۱۰۴۰ زکال سرخس ته نږدې د **دندان قان** په سیمه کې جګړه پېښه شوه چې په پایله کې سلطان مسعود غزنوي ماته وخوړه او هندوستان ته وتښتېد. له دې څخه وروسته دغزنویانو ضعیف حکومت ۱۳۰ کاله دوام وکړ. خو سیمه یې ډېره محدوده وه او بالاخره دغه لړۍ د غوري شاهانو (ټولواکانو) په لاس له منځه لاړه.



د غزني بالاحصار

## سلجوقیان

سلجوقیان هم د ترکمنانو له توکم څخه شمېرل کېږي. د سلجوقي ترکمنانو نیکه **سلجوق** نومېده. ده څلور زامن درلودل، د ده یو زوی د **اسرائیل** په نامه د **سلطان محمود** لخوا ونیول شو. د هندوستان په کالنجر کې تر ۷ کلو اسارت نه وروسته هملته و مړ. دغه کار د غزنویانو او سلجوقیانو تر منځ د دښمنۍ لامل وګرځېد خو د سلجوقیانو د لړۍ بنسټ اېښودونکي **طغرل بیګ** د سلجوق لمسی دی. همده د دندان قان په جګړه کې سلطان مسعود ته ماتې ورکړه او رتې او مهم ولایتونه یې په ماوراءالنهر، ایران او افغانستان کې لاس ته راوړل. له طغرل بیګ نه وروسته دده وراره الپ ارسلان حکومت ته ورسېد. ده د (ملازجرد) په جګړې کې رومیانو ته ماتې ورکړه او کوچنۍ اسیا یې ونیوله. د ده زوی ملکشاه هم په ختیځ کې تر چین او په لوېدیځ کې د مدیترانې تر سمندرګي پورې وړاندې تګ وکړ.

### د سلجوقیانو را پرزېدا

د سلجوقیانو پراخ هېواد هم د سلجوقي شهزادګانو ترمنځ و وېشل شو. شهزادګانو د خپلو وزیرانو په مرسته چې **اتابک** نومېدل د حکومت چارې پرمخ بیولې.

همداکار د دې لامل و ګرځېد څو دغه سلجوقي پراخ هېواد ټوټې ټوټې شي چې په پایله کې نورې لړۍ لکه خوارزم شاهان، قراختایان او غوریان رامنځ ته شوې او د سلجوقي ستر هېواد سیمې یې ونیولې.




د سلجوقیانو د هېواد نقشه



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سلجوقیانو ستر خدمت

یو له هغو سترو چوپړونو (خدمتونو) څخه چې سلجوقیانو زموږ د هېواد کلتور او تمدن ته وکړ دا و چې دوی **فارسي ادب** او فرهنګ ته پاملرنه واړوله. فارسي ادب او فرهنګ د سلجوقیانو له لارې **عراق، اذربایجان** او **کوچنۍ اسیا** ته ولېږدېد. هغوی د معمارۍ په برخې کې هم زموږ هېواد ته ښه ناڅه چوپړونه وکړل. د سلجوقیانو په زمانې کې د جوزجان په سرپل کې د **امام خورد** زیارت جوړ شو او همدارنګه د بلخ په دولت اباد کې یو **منار** تزئین وموند. همدارنګه د بلخ په لوېدیځه برخه کې د **بابا حاتم** زیارت جوړ شو.



د سلجوقي د دورې یو اثر

**په ټولګي کې فعالیت:**

ګران زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي یوه ډله دې د غزني د پرمختګ او دغه راز د غزنویانو په دوره کې د دري ژبې او فارسي کلتور د پالنې لامل و شاربي او دومه ډله دې د سلجوقیانو په دوره کې د فارسي ژبې او ادب د غوړېدا لامل څرګند کړي.


**پوښتنې:**

۱. غزنویان او سلجوقیان له کوم توکم څخه وو؟
۲. ولې غزنوي حکومت په دې بریالي نشو څو د سلجوقیانو په وړاندې ټینګار وکړي؟
۳. د غزنویانو او سلجوقیانو ترمنځ د جنګ لامل څه و؟
۴. د سلجوقیانو د دوه رټو او مهمو ټولواکانو نومونه واخلئ.
۵. تش ځایونه ډک کړئ.

د سلجوقیانو پراخه هېواد........................ترمنځ وویشل شو او په همدې..................................

هغوی.......................................... شول.

# غوریان او خوارزم شاهان




د سلطان غیاث الدین او سلطان شهاب الدین غوري په زمانه کې د افغانستان د غوریانو د امپراتورۍ سرحدات

ایا پوهېږئ چې غوري کورنۍ زموږ د هېواد ډېره لرغوني او پخوانۍ کورنۍ ده او ایا خبر یاست چې خوارزم شاهان په افغانستان کې د اسلامي سیمه ییزو حکومتونو د لړۍ وروستنۍ حکومت و ؟

## غوریان

غوریان د غور یوه ډېره لرغوني او پخوانۍ کورنۍ ده. د دوی ستر نیکه **ملک شنسب** نومېده. ده د اسلام د ځلورم خلیفه **حضرت علي** (رض) د خلافت په دوره کې اسلام ومانه او د غور د حکومت فرمان یې ور څخه ترلاسه کړ. غوریان د **نبي کریم** صلي الله علیه واله واصحابه وسلم کورنۍ بني هاشم ته ډېر وفادار و ځکه خو یې په عباسي پاچاهانو کې هم ښه خوزښتناکه ونډه واخیسته. **امیر پولاد او امیر کروړ** د همدې کورنۍ بچیان وو. **امیرمحمد سوري** هم د غوري کورنۍ له شاهانو څخه دی. ده هم **دسلطان محمود غزنوي** د نارامیو په وړاندې پوره ټینګار وکړ. خو بالاخره د هغه له خوا اسیر شو. له دې څخه وروسته غوریان د غزنویانو تر سلطې لاندې ورغلل. کله چې د **سلجوقیانو** حکومت رامنځ ته شو غوریانو له هغوی سره هم یو لړ اړیکې درلودې. **سلطان غیاث الدین** غوري او د هغه ورور سلطان شهاب الدین غوري د غوریانو د حکومت لړۍ تر هندپورې و غزوله. **سلطان شهاب الدین** غوري په ۶۰۲ سپوږمیز/ ۱۲۰۶ زکال کې لاهور ته نږدې په یوې سېمې کې د هندوانو په واسطه و وژل شو. له هغه څخه وروسته غوري لښکرې د ستنېدو په وخت د خپه قومونو او قبایلو له خوا لوټ شوې. **خوارزم شاهانو** د دوی له ضعف او کمزورتیا څخه ګټه واخیسته او پر افغانستان باندې واکمنان شول.




(c) ketabton.com: The Digital Library

## خوارزم شاهان

خوارزم شاهان په ماوراءالنهر کې د خوارزم له ښاره را پاڅېدل. ویل کیږي چې د خوارزم لومړنی امیر انوشتګین غرجه نومېده. ده د غرجستانو یا اوسني هزاره جاتو څخه و خو لومړنی شخص چې خوارزم شاه ونومول شو د ده زوی قطب الدین محمد و.

د دې کورنۍ نومیالی ټولواک **علاوالدین تکش** نومېده. ده وروستني سلجوقي ټولواک **طغرل** وواژه او د ایران زیاتې سیمې او د افغانستان ځینې سیمې یې ونیولې. دده زوی علاؤالدین محمد تر ۶۱۲ سپوږ میز/ ۱۲۱۶ زکاله پورې **غوري** دولت له منځه یوړ. د ده هېواد په هندکې ترسند او په لوېدیځ کې تر عراق پورې پراخ و. د مغولانو په را منځ ته کېدا سره علاؤالدین محمد له ډېرو سترو ستونزو سره مخامخ شو په ۶۱۷ سپوږمیز/ ۱۲۲۱ زکال کې یې له مغولو نه ماتې وخوړه او د ایران په لوري یې تېښته وکړه. او په پای کې د **مازندران** د ستر سیند یوې ټاپو وزمې کې یې ځان پټ کړ او همالته مړ شو. د ده زوی جلال الدین محمد چې د مغولو په وړاندې یې د جګړې زیات ټینګار کاوه بالاخره په ۶۲۷ سپوږمیز/ ۱۳۳۰ زکال کې دکردانو په مټ ووژل شو او په دې توګه خوارزمي حکومت په بشپړه توګه له منځه ولاړ.



د خوارزم شاهي دولت بیرغ

**په ټولګي کې فعالیت:**

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي او د نقشې په ذریعه لومړۍ ډله دې د غوریانو او دوهمه ډله دې د خوارزم شاهانو د راپاڅېدلو ځایونه وښیي.

**پوښتني:**

۱.د غوریانو د اسلام راوړني مخینه څه وخت ته رسېږي؟

۲.د غوریانو رټو او مهمو پادشاهانو، ټولواکانو، نومونه واخلئ.

۳.خوارزم شاهان د څه ډول کسانو له خوا نسکور شول؟

٤.سلطان محمود غزنوي په .................. یرغل وکړ او ........................ د هغه په لاس اسیر شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## مغولان، تیموریان او دکرت اولاده




آیا پوهېږئ چې مغولانو زموږ هېواد په خاورو او وینو لیت پیت کړ؟ آیا پوهېږئ چې دکرت اولادې د مغولانو په زمانې کې حکومت جوړ کړ؟ او آیا پوهېږئ چې تیموریانو هم زموږ د هېواد په ځینو برخو حکومت کړی دی؟

### مغولان

مغولان له مهمو اسیایي قامونو څخه دي. د دوی سیمه **مغولستان** د ترکستان او چین ترمنځ پرته ده. د دې خلکو د ژوند بنه قبایلي وه او تل له یوه ځایه بل ځای ته کډه کېدل.

مغولي قبایلو په ۶۰۲ سپوږمیز/ ۱۲۰۶ زکال د یوې لویې جرګې په ترځ کې **تموچین** د خپل لارښود په توګه وټاکه او هغه ته یې د **چنګیزخان** لقب ورکړ. ده مغولي قامونه او قبیلي لانورې هم سره یو کړې او د خپلو خلکو د لا ښه نظم او ثبات لپاره یې د "**یاسا**" تر سرلیک لاندې د مقرراتو یوه ټولګه رامنځ ته کړه.

### د مغولانو یرغل

چنګیزخان په لومړۍ سرکې د ماوراءالنهر ښارونه د خپل یرغل موخه وګرځوله او په ۶۱۶ سپوږمیز/ ۱۲۲۰ زکال کې یې د **اترار** ښار ونیو په دې ښار کې د مخه یو مغولي سوداګریز کاروان د دغه ښار د حاکم له خوا لوټ شوی و.

د بخارا، سمرقند، خوارزم او مرو ښارونه هم د مغولو په لاس ته ورغلل او د دغو ځایونو په زرهاو تنه



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**